Afghanistan Chamber Of Commerce & Industries
اتاق تجـــارت و صنـــایع افغانستـــــان
دافـــغانــــستان د ســـوداګرۍ او صنــایعو اتـــاق

ACCI Business Monitor

# د کاروبار سروې
# ۱۳۹۶

پانګوال د سپارښتنو په برخه کې د پخوانیو سروې ګانو به څیر د کموالي خبر ورکوي.













## د کاروبار د خنډونو سروې

د شرکتونو د راکړې ورکړې پر وړاندې د پرتو خنډونو په سروې کې د بلخ، کابل، کندهار، ننګرهار او هرات له ولایتونو څخه بېلګې راټولې شوې دي.

## د کار و بار د وضعیت سروی

د کاروبار شرایط د کورنیو ناخالصو تولیداتو د ودې د تګلورې د پېژندنې په موخه یو شاخص دی. دغه شاخص د څو راتلونکو میاشتو لپاره د کورنې نا خالص تولید په کچه د بدلونونو وړاندوینه کوي. په دې شرط چې په دې موده کې د اقتصاد په عمومي شرایطو کې د پام وړ ستر بدلونونه نه وي رامنځ ته شوي.




# د کاروبار د خنډونو سروې
# د افغانستان د سوداګرۍ
# او صنایعو د خونې
**لیندی ۱۳۹۶**











## دکاروبار د خنډونو سروې

## دکار و بار د وضعیت سروی

# وړاندوینه

خوښ یم چې د تېرو ٦ کلونو په ترڅ کې پدې وتوانېدو څو د کاروبار پر وړاندې پراته خنډونه د ربعوارو او کلنبو سروې ګانو په مرسته د هېواد په پنځه غټو زونونو کې په دوامدار ډول تر څېړنې لاندې ونیسو. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو د سروې په مرسته د شرکتونو څخه ترلاسه شوي معلومات د سیاسي، اقتصادي، او سوداګریزو ټولنو او نورو مینه والو په واک کې ورکول کیږي. دغه سروې د اقتصادي چارو د ستونزو په اړه د معلوماتو د راټولولو په موخه تر سره کیږي او هغه بدلونونه چې په دې موده کې رامنځته کیږي، تر څېړنې لاندې نیسي.

د دغه څېړنو پر بنسټ د افغانستان خصوصي سکټور په تېرو وروستېو کلونو کې د کاروبار او سوداګرۍ د خرابېدا څخه زیان لیدلی. په همدې حال کې، د افغانستان دولت د خصوصي سکټور څخه د ملاتړ په لار کې ژمن په نظر راځي، او دغه راز مونږ په دې برخه کې د یو لړ پرمختګونو شاهدان یو. د بېلګې په توګه د دولت لخوا د اصلاحاتو په موخه د خصوصي سکټور اړوند یو لړ مسایل په لومړیتوبونو کې نیول شوي چې په دې لړ کې د سوداګرۍ د نړیوال سازمان سره د افغانستان یو ځای کېدل، د تیر TIR د حمل او نقل سیستم پلي کول، د آسان خدمت را منځته کول، بهرنیو سوداګرو او پانګوالو ته د ویزې د ورکړې په برخه کې آسانتیاوې، د سوداګریزو شخړو د حل د مرکز رامنځته کول، د چټک انټرنټ او نوري فایبرد رامنځته کولو او ګټې اخیستنې په موخه د آزادې پالیسۍ تصویب او د کابل-ډیلي او بمبې تر منځ د هوایي کارګو رامنځ ته کول شامل دي.

باید یادونه وکړو چې پورته اقدامات مناسبو پلټنو ته اړتیا لري او دغه پرمختګونه به هغه وخت عملي او د لیدو وړ پایلې ولري چې په منظم توګه ورڅخه نظارت او ملاتړ صورت ونیسي. په ځینو برخو کې مونږ د دغه کار په تر سره کولو برلاسي شوي نه یو، د بېلګې په توګه تر دې دمه هم د آسان خدمت په بنسټ کې د غیرضروري بیوروکراسۍ شته والي او همدا راز د مالیاتو د ورکړې پیچلي شرایط او دغه راز د کارد جواز نوي کول چې څو ورځې په بر کې نیسي. په همدې حال کې په ولایتونو کې ډېرې فعال تشبثات یادو آسانتیاؤ ته لاسرسي نه لري.

د کسب او کار کمزوري شرایط رانښایي چې د اصلاحاتو کچه په هغه اندازه نده چې رښتینې بدلون را منځته کړي. زمونږ د

وروستنۍ سروې د معلوماتو له مخې، نا امني، انرژۍ ته نه لاس رسي، د مناسبو بېخ بناؤ کموالي، د تقاضا یا غوښتنې کموالي او په کارپوه کارګرو ته نه لاس رسي په هېواد کې د کاروبار د پرمختیا په وړاندې له سترو ننګونو څخه دي. رښتیني اصلاحات به هغه وخت رامنځته شي چې د یادو خنډونو د لرې کولو په موخه په ګڼو سکټورونو کې ګامونه واخیستل شي.

دغه سروې د خصوصي سکټور په برخه کې د شته ستونزو په اړه د حکومت او خصوصي سکټور دګډ درک او رغونکو خبرو د غښتلتیا په لور د پېل ټکی دی. هیله ده څو د افغانستان حکومت د سوداګرۍ خونې د کاروبار د سروې لاسته راوړنې د اقتصاد او سوداګرۍ اړوند خپلو پالیسېو کې په پام کې ونیسي. دغه راز د کاروبار لپاره د هر اړخیز حقوقي چوکاټ د را منځته کولو او د سوداګرۍ د شاخصونو د ښه والي په موخه ځانګړي قدمونه واخلي، تر څو دکورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې د هڅونې سبب شي.

په هېواد کې د پانګې اچونې او سوداګرۍ د یو غوره چاپېریال په هیله



عتیق الله نصرت

د هئیت عامل رییس

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې

# مقدمه:

د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونه د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو د سروې معلومات چې د شرکتونو په مرسته تر سره شوې، ټول لاسته راوړې معلومات د سياسي-اقتصادي تصميم نيونکو، سوداګريزو ټولنو او نورو مينه والو په واک کې ورکوي. ياده سروې د اقتصادي چارو پر وړاندې د شته ننګونو په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه تر سره کيږي او هغه بدلونونه چې په همدې موده کې رامنځته کيږي تر څېړنې لاندې نيول کيږي.

د کاروبار د خنډونو په سروې کې د بلخ، کابل، قندهار، ننګرهار او هرات ولايتونو څخه يو شمېر شرکتونه د بېلګې په توګه ټاکل شوي. دغه بېلګې د اقتصادي سکټورونو د ځرنګوالي او اندازې له مخې ټاکل شوې. د هرې سيمې د شرکتونو شمېره د هغوې د اقتصادي فعاليتونو د حجم په پام کې نېولو سره په لاندې توګه ټاکل شوې: کابل ۱۶۰ شرکتونه، بلخ، قندهار، ننګرهار او هرات هر يو ۵۰ شرکتونه.

د دغه سروې مرکه د تيليفون په مرسته د ۱۳۹۶ کال د ليندۍ په مياشت کې تر سره شوې.

د يادونې وړ ده، چې دغه سروې د محرميت د اصل په رعايت او پام کې نېولو سره تر سره شوې ده او دغه راز د سروې په مرسته لاسته راغلي ارقام يوازې د همدې سروې په جوړولو کې کارول کيږي. د پانګوالو ځانګړي اطلاعات په کامل ډول محرم دي او په رپوټ کې هم د شرکتونو هيڅ ډول فردي يا شخصي معلومات درج شوي نه دي. راټول شوي معلومات د سوداګرۍ او صنايعو خونه کې د پلټنې د ټيم په مرسته چاڼ او ارزول شوې. د پلټنې ياده اداره په ۲۰۱۲ کال کې د آلمان هېواد د نړيوالو مرستو د ادارې په تخنيکي مرسته را منځته شوې.

## د کار وبار پر وړاندې د پرتو خنډونو د سروې پايلې:

دا چې مخکې ورڅخه يادونه وشوه، د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې هغه ستونزې چې په کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات ولايتونو کې د سروې شوېو شرکتونو پر وړاندې شتون لري، په ګوته کوي.

د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو د سروې بوښتنليک د کاروبارونو په ملي اجنډا کې د شاملو مسايلو پر محور ولاړ دی. د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو شپږمه سروې د ۱۳۹۶ کال د ليندۍ په مياشت کې د ټيليفون په وسيله ترسره شوې چې ټول ټال ۳۶۰ شرکتونه په برکې نيسي.

### د دغه سروې موندنې په لاندې ډول خلاصه کوو:

۱ د دغه سروې د لاسته موندنو پر بنسټ، پانګوال په دې اند دي چې د کابل، بلخ، هرات او ننګرهار په ولايتونو کې امنيتي حالت د تېر کال په پرتله لږ څه ښه شوې دې.

۲ د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې څرګندوي چې د کارپوه کارګرانو کمې په ټولو سروې شويو زونونو کې يو له مهمو ستونزو څخه دې چې په ننګرهار او هرات ولايتونو کې ياده ستونزه تر نورو ځايونو سخته په نظر راځي.

۳ د بيخ بناؤ نه شتون د هېواد په مختلفو سيمو کې د ټولو سکټورونو يو له سترو ننګونو څخه دې چې د تېر کال په څېر اکثر سروې شوي شرکتونه په هېواد کې د بيخ بناؤ له نشتوالي څخه سر ټکوي. بربېښنا ته نه لاسرسې د پانګوالو يو له سترو بيخ بنايي ستونزو څخه دې.

۴ د کار د جواز ترلاسه کول او د هغې د مودې غزول د تېر کال په پرتله ښه والي موندلې.

۵ سروې شوي پانګوال څرګندوي چې د عامه داوطلبيو وضعيت د تېر کال په پرتله څه ناڅه ښه شوې، مګر په ننګرهار ولايت کې پانګوال د عامه داؤطلبيو څخه نا خوښ دې. دغه راز په کابل، بلخ او کندهار ولايتونو کې هم ځيني پوښتل شرکتونه د عامه داوطلبيو د پروسې د اصلاح غوښتنه کوي.

۶ کاروبارونه د مالياتو له سيستم څخه ناخوښ ښکاري او د (٦٠٪) څخه زيات سروې شوي شرکتونه وايي چې د مالياتو د ورکړې په پروسه کې ستونزې لري. د دغه ستونزو اصلي دليل د مالياتو ډېر پېچلي او غيرشفاف سيستم په ګوته شوې دې.

## ځمکي ته لاسرسی

د کاروبار پروړاندې د شته خنډونو سروې راښايي چې د تېر کال (۵۱،۱٪)  په پرتله (۵۵٪) ځواب ویونکو په ټول هېواد کې ځمکې ته لاسرسې یو له ننګونو څخه را په ګوته کړي چې د تېر ۲۰۱٦ کال (۴۸،۹٪) په پرتله (۴۵٪) سروې شوي شرکتونه دا راښايي چې د ځمکي د پلور او یا هم د اجارې په برخه کې له هېڅ کومې ستونزې سره مخامخ نه دي. د دغه سروې پر بنسټ ځمکې ته لاسرسې یوه عامه ستونزه ده چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په پرتله ستر او غټ شرکتونه د سوداګریزو موخو په غرض د ځمکې په تر لاسه کولو کې له زیاتو ستونزو او ننګونو سره مخامخ دي.

د سکټوري نظره، سوداګریز (٦۰٪)، تولیدي (۵۸،۲۸٪) او دغه راز ودانیز شرکتونه (۵۸،٦٪)  د کرنیزو (۵۳٪) او خدماتي شرکتونو (۴۴،۳) په پرتله  ځمکي ته د نه لاس رسي څخه ناخوښ دي. د سوداګری، ودانیزو چارو او کرني سکټور دا را په ګوته کوي چې د دوې لپاره د ځمکې اخیستل د تېر کال په پرتله لا ستونزمن شوي دي. دغه راز د خدماتو او تولید د سکټورونو د معلوماتو له مخې ځمکې ته د لاس رسي حالت لږ څه ښه شوي دي.

ګڼ شمېر سروې شوي شرکتونو (۴۲،٦۰٪) وئیلي چې د ځمکې نشتوالي د هغوې د کاروبار او سوداګری په لار کې تر ټولو ستره ستونزه ده. د دغه پانګوالو په وېنا د سوداګریزو سرایونو لوړه بیه او کرایه ځمکې ته د لاسرسي د لارې ستر خنډ دي. د پام وړ شمېر شرکتونو (۱۷،۳٪) په وینا سیاسي لاسوهنې ستره ننګونه ده. همدا راز د سروې شوېو شرکتونو (٦،۱٪)  په دې باور دي چې حقوقي او ملکیتي ستونزې ځمکې ته د لاس رسي د لارې خنډونه دي.







گراف ۱ - ځمکي ته لاسرسی

# مالي سرچينو ته لاسرسی

که څه هم په وروستۍ یوه نیمه لسیزه کې مالي سیسټم چټکه وده درلودلې مګر دا مهال هم مالي بنسټونه په اقتصادي راکړو ورکړو کې لږه ونډه لري. سره لدې چې کره ارقام په لاس کې نشته ولې یوه ښکاره خبر ده چې لږ شمېرخصوصي شرکتونه رسمي مالي سرچینو ته لاس رسې لري. ګڼ شمېر شرکتونه د زیاتې بانکي ګټې او د ضمانت د سختو شرایطو له امله نه شي کولای پور تر لاسه کړي. په داسې حال کې چې د ګټې او مفاد اندازه لږه هم وي یو شمېر پانګوال د قرضې له اخیستو څخه ډډه کوي او په دې باور دي چې سود د اسلامي اُصولو پر خلاف دې.

په مجموع کې ۴۳٪ ځواب ویونکو وئیلي چې مالي سرچینو ته لاسرسې هغوی ته ستونزمن دې. په داسې حال کې چې ۵۷٪ وئیلي چې مالي سرچینو ته په لاس لرلو کې کومه ستونزه نه لري. په مختلفو ولایتونو کې د پانګوالو د نظرونو تر منځ توپیر د لیدو وړ دې. په کابل کې د تېر کال په څېر ۴۱٪ سروې شویو شرکتونو وئیلي چې مالي سرچینو ته د لاس رسي په برخه کې ستونزې لري. په کندهار کې ۵۶٪ سروې شوي شرکتونو وئیلي چې مالي سرچینو ته د لاس رسي په برخه کې ستونزې لري چې د تېر کال په پرتله ۷۰٪ سلنه کموالې را په ګوته کوي. په ننګرهار کې پانګوال د ۳۸٪ او دغه راز هرات ولایت کې د ۳۶٪ په کچه مالي سرچینو ته د نه لاس رسي څخه خپله نا خوښي را په ګوته کوي.

تېر کال سترو او لویو شرکتونو نظر کوچنیو او منځنیو شرکتونو ته د خپلو زیاتو ستونزو څخه یادونه کړې وه مګر سږ کال د کوچنیو او منځنیو (۴۷٪) او لویو شرکتونو(۴۶،۶) تر منځ کوم د پام وړبدلون نه لیدل کیږي. فقط مالي سرچینو ته د لاس رسي په برخه کې د کوچنیو او منځنیو شرکتونو تر منځ د لید لوري تر منځ توپیر په نظر راځي. په ۲۰۱۶ کال کې لویو سروې شویو شرکتونو د کوچنیو او منځنیوشرکتونو په پرتله مالي سرچینو ته د لاسرسي په برخه کې زیاتې ستونزې راپه ګوته کړي. مګر په ۲۰۱۷ کال کې د کوچنیو او منځنیو شرکتونو (۴۷٪) او دغه راز د لویو شرکتونو(۴۶،۶٪) تر منځ کوم خاص توپیر په نظر نه راځي. په داسې حال کې په دې کال کې کوچني او منځني شرکتونه (۴۵،۵٪) مالي سرچینو ته د نه لاسرسي څخه شکایت لري چې د لویو شرکتونو (۳۶،۷٪) په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالي رانبايي.

د سکټوري پلوه، کرنه او تولید(هریواضافه له ۴۷٪) مالي سرچینوته د لاسرسي په برخه کې ترټولو زیاتې ستونزې او دغه راز د سوداګرۍ سکټور(۳۷٪) په دې برخه کې ترټولو کمې ستونزې را په ګوته کوي. د یادونې وړده چې د کرنیزو او تولیدي شرکتونو شمېره چې مالي سرچینوته د لاسرسي په برخه کې ستونزه لري د تېر کال (۶۲٪) په پرتله د پام وړ کموالي را په ګوته کوي. د خدماتي ۴۱٪ او د ودانیزو شرکتونو ۴۳٪ پور ته د لاس رسي په برخه کې ستونزه را په ګوته کوي. د تېرو کلونو په څېر اکثر شرکتونه (۵۰،۶٪) د ګټې د کچې زیاتوالې، ولې (۲۶٪) ځواب ویونکي د ضمانت زیاتو سندونو ته اړتیا پور ته د لاس رسي په برخه کې د دوې ستره ستونزه ده. ډېرې سروې شویو شرکتونو د قوي سیاسي واسطې درلودل او پېچلي کاري او سوداګریز پلان ته اړتیا د پور د ترلاسه کولو په برخه کې ستر خنډ بللې.




گراف ۲- مالي سرچينو ته لاسرسی

# مالياتي سيستم

افغان پانګوال د پېچلي مالياتي سيستم له امله چې د ډول ډول مالياتو څخه متشکل دې، د ستونزو سره مخامخ کېږي. دغه سيستم د پېچلي خصوصي سکټور چې ګيچ کوونکي او د وېراند وينې وړ نه دي، غېر قانوني کړنو ته لار پرانيزي. پرته له دې، پانګوال د مالياتو له نوي سيستم څخه هم ناخوښ دي چې هغوی په دې مجبوروي څو خپلې مالياتي اظهارنامې او مالياتي بيلانسونه هره مياشت او په ربعوار او کلني ډول وړاندې کړي.

پانګوال په مالياتي سيستم کې د ستونزو په اړه خپله ناخوښي را په ګوته کوي او ٦۰،٦٪ سروې شوي پانګوال د مالياتو سيستم ستونزمن په ګوته کوي (تېرکال دا کچه ٦٣،٦٪ وه).

په ټولو سکټورونو کې د هغه شرکتونو شمېره چې د مالياتو د سيستم په اړه ښه نظر نلري د هغه شرکتونو څخه زيات دي چې پدې اړه مثبت نظرلري. مګر په دغه منځ کې ودانيز شرکتونه (٦٧٪) د خدماتو (٥۴،٣٪)، کرنې (٥٨،٦٪)، توليد (٦١،٣٪) او سوداګرې (٦١،۴٪) په پرتله بد نظر لري.

کوچني (٦١٪) او لوې شرکتونه (٦۴،۴٪) د منځنيو شرکتونو (٥٧،٨٪) څخه په دې برخه کې زياتې ستونزې را په ګوته کوي.

د شرکتونو نيمايي چې د مالياتو له سيستم سره ستونزه لري د ستونزو اصل دليل پيچلي او غيرشفاف سيستم په ګوته کوي د ٣٦٪ په اندازه دا را په ګوته کوي چې اوسني مالياتي نظام غېرعادلانه او خپل سرې دې. ١٣٪ دا رابښيي چې «د مالياتو را ټولونکي کارکونکي مقررات او اصول په پام کې نه نيسي».




ګراف ۳- مالياتي سيستم

# د گمرک شرایط

سوداگریزه ټولنه د مدرن او نوېو امکاناتو او تجهیزاتو څخه، د بېلګې په ډول په سرحدي سیمو کې د تخنیکي لابراتوارونو او مناسبو انبارځایونو د نه شتون څخه سر ټکوي. پرته له دې، اوسني گمرکي طرزالعملونه  پېچلي او غیرمعیاري دي چې د دې سبب کیږي څو سوداگر په سرحدي پوستو کې څو ځلې د هېواد دننه گمرکي محصول ورکړي.

د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې د صادراتو او وارداتو مقررات او حقوقي شرایط تر ځېړنې لاندې نیولې. د دغه سروې پربنسټ د گمرک شرایطو د تېر کال په پرتله لږ څه ښه والي موندلې دي.

د تېرې سروې (۵۲،۸٪) پر بنیاد هغه شرکتونه چې د گمرک سره سر او کار لري د گمرک له شرایطو څخه خوښ نه دي، پداسې حال کې چې په دغه سروې کې د هغوی (۴۹،۴٪) د گمرک له شرایطو څخه خوښ نه دي.

د تېر په څېر د ولایتونو تر منځ فرق زیات دې. په بلخ کې ۵۵،۶٪ شرکتونه چې د گمرک سره مخامخ اړیکې لري او دغه راز د دې ډلې ۴۱،۵٪ شرکتونو په کابل ولایت کې د گمرک شرایط د خپل کاروبار پر وړاندې ستونزمن بللي. دغه اندازه په کندهار کې ۳۴،۶ ، په هرات کې ۳۷،۵٪ او ننگرهار کې ۲۵٪ دہ. د هرات او ننگرهار اړوند شرکتونه د تېر کال په پرتله هیله مند ښکاري.

د ګڼو سکټورونو فعالان د دې ښودنه کوي چې گمرکي طرزالعملونه او سیستمونه باید و رغول شي. د گمرکي پروسیجرونو د اوسني وضعیت په اړه د شرکتونو له منځه د تولیدي (۴۴،۲٪) او ودانیز شرکتونو (۳۵،۳٪) تر منځ د تېر کال په پرتله د دوې د باوریه په کچه کې د پام وړ زیاتوالي راښایي. د تېر کال په پرتله د کرنیزو شرکتونو (۵۰٪)  اټکل کوم بدلون نه دې موندلې. دغه راز خدماتي (۴۴٪) او سوداگریز شرکتونه (۲۹،۲٪)  د تېر کال په څېر د گمرکي شرایطو په اړه خپله هیله مندي راښایي.

په همدې حال کې کوچني شرکتونه (۴۷٪) نسبت سترو (۳۹،۶٪) او منځنبو شرکتونو (۳۵،۵٪) په پرتله زیاتې ستونزې را په گوته کوي.

ډېرې ځواب ویونکي د گمرکي ستونزو اصلي دلیل پېچلي او غیررڼې تعرفې  او اجباري او غېرعادلانه سیستم را په گوته کوي. د ۱۰٪ په وایې « د گمرک د اداري ډېرټیټ ظرفیت او سرحدي پوستې د وارداتو او صادراتو د مدیریت لپاره اصل گمرکي ستونزه دہ. ۹٪ سروې شوي شرکتونه اضافي او غیرقانوني فیس ستره ننگونه بللې. د دغه سروې یو کم شمېر ځواب ویونکي «د گمرک کارکوونکي قانون منونکي نه دي» د ستونزې په توگه را ښایي.




گراف ۵ - د گمرک شرایط

# داوطلبي

د داوطلبۍ پروسه د روڼتیا د لړوالي او د رقابتي شرایطو له نشتوالي سره مخامخ ده. د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو دغه سروې د تېرې سروې په څېر دا راښايي چې ډېري شمېر شرکتونه له « د داو طلبیو غېرشفاف او خپل سرې حرکت»، « په داوطلبیو کې سیاسي لاسوهنې»، « د بډو ورکړې ته اړ کېدل» او « ډېر درانده بانکي ضمانتونه» څخه په داؤطلبیو کې شکایت لري.

په ټوله کې د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو په سروې کې د عامه داوطلبیو په اړه د پانګوالو نظر ښه والې موندلی. مګر په ننګرهار ولایت کې شرکتونه (۷۲،۴٪) په دې برخه کې سخت نا خوښ دي. په کابل (۵۴،٦٪) او کندهار (۵۲،۹٪) ولایتونو کې اکثریت  سروې شوي پانګوال په داؤطلبیو کې د اصلاحاتو غوښتونکي دي. د هرات (۳۹٪) ولایت په دې اړه د نا خوښۍ تر ټولو کمه کچه را په ګوته کوي.

د کرنې (٦۸،٦٪) او ساختمان (۵۹،۴٪) د برخو پانګوال د خدماتي (۴۲،۲٪)، تولیدي (۴۲،۵٪) او سوداګریزو (۵۱،۱٪) برخو په پرتله خپلې ستونزې څه نا څه زیاتې را په ګوته کوي. لوې شرکتونه د کوچنیو او منځنیو شرکتونو په پرتله زیات اندېښمن دي.

نږدې نیمایي سروې شوي شرکتونه په عامه داؤطلبیو کې د ستونزو لامل « کړکېچ او په خپل سر پروسیجر» را په ګوته کوي او د دغه شرکتونو (۳۳،۳٪) ډېرې شمېر« سیاسي لاس وهنې» د ستونزو اصلي لامل را په ګوته کوي. د دغه شرکتونو نږدې ۱۳٪ د بډو اخیستل اصلي ستونزه را په ګوته کوي. یواځې ۵،۳٪ درانده بانکي ضمانتونه د خپلو ستونزو اصلي لامل را په ګوته کوي.

تدارکاتي موخو ته د رسېدنې په غرض په ټاکلې وخت د معلوماتو ورکړې د رڼو او رقابتي داوطلبیو لپاره د بنسټیزو اړتیاو له جملې څخه دي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې دغه ستونزې ته د ځواب وئیلو په موخه ځانګړې ویبسایټ (http://www.kabul-tenders.org)  را منځ ته کړې. خونه په عین حال کې ځینې رښتینې او عملي اصلاحات «د اصلاحاتو په موخه د خصوصي سکټور لومړیتوبونه» هم وړاندیز کړي دي.







گراف ۵- داوطلبي

# د جواز ثبت او تمدید

په افغانستان کې د خصوصي سکټور لپاره د کاروبار پیل ستونزه نه ده. دا ځکه چې د یو شرکت د ثبتولو لپاره د پانګې کم ترکمه اندازه هم ټاکلې نه ده. په تېرو وختونو کې د یو محدودالمسؤلیت شرکت (LLC) د ثبت په موخه د غوښتنلیک ورکوونکي باید لږ تر لږه یوه اونۍ په افغانستان کې د پانګې اچونې څخه د ملاتړ اداره (ایسا) کې تېر کړي. په ۲۰۱٦ کال کې د پانګې اچونو د ثبت په موخه د آسان خدمت ځانګه رامنځته او د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره (ایسا) د سوداګرۍ او صنایعو وزارت سره یو ځای شوه چې په پایله کې به یې د پانګې اچونې د ثبت مصارف او وخت را کم شي.

د پورته پرمختګونو په پایله کې د پانګې اچونې د جواز د ثبت او تمدید شرایط د تېر کال په پرتله ښه شوې او یوائې (۱۸٪) سروې شوي شرکتونو د کاروبار پیل یوه ننګونکې ستونزه په ګوته کړې. په کندهار کې پانګوال د تېر کال په څېر د ثبت د مرحلو په اړه (۴۰٪) منفي لید لري. دغه راز په هرات (۱۸٪)، کابل (۱۳٪) او ننګرهار(۴٪) کې پانګوال د ثبت د اوسني پروسیجرڅخه نا خوښ دي. د بلخ په ولایت کې د شرکتونو د پام وړ شمېره (۲٦٪) د کاروبار د پیل شرایط خراب را په ګوته کوي.

کوچني او منځني شرکتونه د سترو او لویو شرکتونو په پرتله په دې اړه د لږو ستونزو ښودنه کوي. په همدې حال کې د کرنې او تولید سکټورونه د سوداګرۍ، ودانیز او خدماتو د سکټورونو په پرتله زیاتې ستونزې را په ګوته کوي.

ځواب ویونکي د خپلو ستونزو غټ دلیل « د کار د جواز د ثبت پېچلې طرزالعمل» را په ګوته کوي. د دوې له منځه (۳۳، ۸٪) په دې عقیده دي چې بډې اخیستنه او درانده اضافي مصارف له غټو ستونزو څخه دي. د سروې شویو کسانو له منځه ۱۲٪ د کار د جواز لنډه موده د یوې ستونزې په توګه راښایي . دغه راز « د کاروبار د ځاې څخه د جواز د ثبت او غزولو د ځاې لرې والې » هم د ځینې ځواب ویونکو لخوا د یو ستر دلیل په توګه رپوټ ورکول شوې.




گراف ٦- د جواز ثبت او تمدید

# بیخ بناوې

د بنسټونو لړوالي د افغانستان د خصوصي سکټور پر وړاندې یو د سترو ننګونو څخه دې. د بنسټونو د پرمختیا په موخه څه نا څه هلې ځلې تر سره شوې مګر پانګه وال بریښنا، اوبو، او د فاضلو اوبو ویستلو د سیستمونو ، واټونو او ځینې وختونه د مخابراتي پوښښ له لړوالي څخه نا خوښي راښایي.

د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې د دې ښودونکې ده چې د بیخ بناؤ نشتوالي په خاصه توګه د خصوصي سکټور پر وړاندې یوه هېوادنۍ ننګونه ده. د تېر کال په څېر ډېرې سروې شوې شرکتونه (٧٦،٧٪) په هېواد کې د بیخ بناؤ د نه شتون څخه نا خوښ دي . په کندهار کې نږدې ټول شرکتونه (٩٦٪) د بیخ بناؤ نشتوالي د خپلو سوداګرېو پر وړاندې یوه ستره ننګونه په ګوته کوي. په ننګرهار کې ٨٢٪ سروې شوي شرکتونه، کابل ٧٥،٦٪، بلخ ٦٨٪ او په هرات ولایت کې ٦۴٪ د نامناسبو زیربناؤ څخه اندېښمن دي.

٨٠٪ شرکتونه چې په زیربنایي برخو کې ستونزې لري، وایي چې د بریښنا نشتوالي د دوې د کاروبار پر وړاندې تر ټولو لویه ستونزه ده. د خدمات (٩١،٨٪)، تولید (٩١٪)، سوداګرۍ ٨٦٪ او ساختماني سکټور ٨٠٪ د انرژی له کموالي او د هغوې پر کاروبارونو د هغۍ د منفي تاثیراتو څخه اندېښمن دي.

کرنیز شرکتونه بریښنا (٥٠٪) او اوبو (٦۴،۴٪) ته نه لاس رسي د خپل کاروبار پر وړاندې د سترو ننګونو له جملې څخه یادوي.

لوې او منځنې شرکتونه د کوچنیو شرکتونو په پرتله زیاتې بیخ بنایې ستونزې را په ګوته کوې.

**لوې او منځنی شرکتونه د کوچنیو شرکتونو په پرتله زیاتې بیخ بنایی ستونزې را په ګوته کوی.**




| | تولټال | کرنیز | سوداګریز | خدماتي | ودانیز | تولیدي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د مخابراتي پوښښ کموالي | 1.1 | 0 | 0 | 2 | 3.8 | 0 |
| د فاضلاب او د فاضله توکو د راغونډولو د سیستم کمښت | 3.6 | 3.6 | 6 | 2 | 3.8 | 2.9 |
| د بریښنا کمښت | 80.1 | 50 | 86 | 91.8 | 80.8 | 91.3 |
| د اوبو کمښت | 15.2 | 46.4 | 8 | 4.2 | 11.6 | 5.8 |

ګراف ٧- بیخ بناوې (زیربناوې)

## مسلکي کاري ځواک

افغانستان د زده کړو د لازمو آسانتیاؤ د کموالي او مهاجرتونو له امله د ماهرو کارکوونکو له کمي سره مخامخ دی. د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې راښيي چې د ماهرو کارکوونکو ستونزه په ټولو سروې شويو زونونو کې ستره ننګونه بلل شوې. ننګرهار او هرات د کابل، کندهار او بلخ ولايتونو په پرتله د کارپوه کارکوونکو په برخه کې د زياتو ستونزو سره مخامخ دي.

ساختماني شرکتونه (۹۰٪)، کرنيز(۸۷٪) او سوداګريز شرکتونه (۸۰٪) د خدماتي (۷۷،۹٪) او توليدي (۷۶،۳٪) شرکتونو په پرتله ماهرو کارکوونکو ته د لاس رسي په برخه کې د زياتو ستونزو سره مخامخ دي.

د دغه سروې د موندنو پر بنسټ ماهرو کارکوونکو ته د لاس رسي په برخه کې د کوچنيو، منځنيو او سترو شرکتونو تر منځ کوم د پام وړ توپير په نظر نه راځي.




ګراف -۸ مسلکي کاري ځواک

## امنيت

امنيت په ټولو سکټورونو کې د پانګوالو پر وړاندې ستره ننګونه ده. د هېواد په ځينې سيمو کې د سوداګريزو ټوکو وړل راوړل يو ستونزمن او د خطر نه ډک کار دی.

دغه سروې راښيي چې پانګوال د کابل، بلخ، هرات او ننګرهار ولايتونو د امنيتي وضعې په اړه د تېر کال په پرتله لږ څه هيله مند دي.

په ټوله کې ۴۸٪ سروې شوي شرکتونه له خراب امنيت څخه سرټکوي. په ننګرهار(۸۰٪) او کابل (۵۴،۴٪) کې دغه شرکتونه د هرات (۳۸٪)، بلخ (۳۲٪) او کندهار (۲۲٪) په پرتله خپلې زياتې ستونزې را په ګوته کوي. چې په دې ډله کې د کندهار او بلخ ولايتونه د مخ په ښه کېدونکې امنيتي وضعې خبر ورکوي.

ودانيز(۵۵،۸٪)، توليدي (۵۵٪) او خدماتي (۵۳٪) شرکتونه د کرنيزو (۳۴،۳٪) او سوداګريزو (۴۱،۴٪) شرکتونو په پرتله د بدې امنيتي وضعې شاهدان دي.

د امنيتي وضعې په اړه د سترو، منځنيو او کوچنيو شرکتونو د نظر تر منځ کوم خاص بدلون په نظر نه راځي.




ګراف ۹- امنيت

## په تشبثاتو کې د ښځو ونډه

په افغانستان کې یو شمېر اقتصادي چارې د یو لړ دودیزو او نورو ستونزو له امله په لږ ډول د مېرمنو پر وړاندې پرانستې دي. چې په پایله کې یې د دغه ستر انساني ځواک د وزګار پاتې کېدو له امله د هېواد اقتصادي حرکت ته نه جبرانیدونکي زیان رسیږي.

دا چې د سوداګرو مېرمنو پر وړاندې ګڼې ستونزې شتون لري مګر د کاروبار د غه سروې راښایي چې په اقتصادي چارو کې د خصوصي پانګوالو تر منځ د مېرمنو شتون د پام وړ ملاتړ څخه بهره مند ندې. په ټوله کې ۸۲٪ سروې شوي شرکتونه وایي چې لا زیاتې مېرمنې باید کاروبار ته راودانګي. تېر کال ۶۲،۵٪ پانګوالو په سوداګرۍ او کاروبار کې د مېرمنو د شتون څخه خپل ملاتړ کړې وو.

دغه سروې راښایي چې په کاروبار او اقتصادي چارو کې د مېرمنو شتون څخه د هېواد په ټولو سیمو کې په ټینګه ملاتړ کیږي. ولې په ننګرهار (۹۸٪) او بلخ ولایتونو کې پانګوال د کابل (۷۸٪)، هرات (۷۲٪) او کندهار(۸۰٪) د ولایتونو په پرتله په اقتصادي چارو کې د مېرمنو د ګډون څخه ملاتړ را په ګوته کوي.

په ټولو سکتورونو کې په مېرمنو پورې اړوند کاروبارونو څخه هرکلې شوې. په اقتصادي چارو کې د مېرمنو د شتون څخه ملاتړ په ودانیز سکتور (۹۳٪) کې تر ټولو زیات او دغه راز د تولید (۷۲،۵٪) او سوداګرۍ (۷۷،۱٪) برخو کې تر ټولو کم وو. دغه راز د خدمتونو (۸۵٪) او کرنې (۸۳٪) سکتورونه هم په دغه اقتصادي سکتورونو کې د مېرمنو د ونډې اخیستنې څخه هرکلې کوي. په تولیدي (۶۳،۷٪) او سوداګریزه (۵۸،۶٪) برخو کې سروې شوي کسان په دې اند دي چې مېرمنې باید په زیاته اندازه کاروبارونو ته مخه کړي.

په اقتصادي چارو کې د مېرمنو د ونډې څخه د ملاتړ په برخه کې د لویو، منځنیو او کوچنیو کمپنیو د لید تر منځ کوم خاص توپیر په نظر نه راځي




ګراف ۱۰- په تشبثاتو کې د ښځو ونډه






# د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه د کار و بار د وضعیت سروې



## ستري موندنې:

- د تېرو وروستېو سروې ګانو پر بنسټ د سوداګرۍ او کاروبار وضعیت لږ څه ښه شوې دې، مګر دا سروې د تېر ۲۰۱٦ کال د همدغه دورې په پرتله د کاروبار وضعیت خراب را په ګوته کوي.
- د اوسني وضعیت په اړه د پانګوالو د ډاډ کچه او د راتلونکو شپږو میاشتو په ترڅ کې د هغوې هیلې د تېرې سروې په پرتله کمې شوی.
- د ۲۰۱۷ کال د تېرو دریو سروې ګانو په خلاف، هیڅ یوه سیمه د کاروبار د مثبت شاخص ښودونکې نه ده.
- کرنه د (۳،۱) شاخص په درلودلو سره د کارګمارنې په برخه کې تر ټولو زیاته هیله مندی راښایې او دغه راز ساختماني سکټور د (-۲۵،۷) شاخص په درلودو سره د کارګمارنې په ټیټه کچه کې ځای لري.
- د ۲۰۱٦ کال د اخرني فصل د سروې را پدیخوا، تولیدي سکټور د سکټوري درجه بندۍ له مخې په تدریجي توګه ښکته راغلې.
- د سترو شرکتونو وضعیت مخ په ښه کېدو دې، مګر واړه او منځني شرکتونه د خپلو سوداګرېو د خرابېدا څخه رنځېږي.
- پانګوال راښایي چې د دوې د پلور سپارښتنې د پخوانېو سروې ګانو په څېر د کمېدو په حال کې دي.
- د سوداګرۍ د پراختیا تر ټولو مهم عامل امنیت دې، ولې په دې سروې کې هیڅ یو سروې شوې ولایت هم له امنیتي پلوه مثبت ندې ښودل شوې.

## الف. دکار و بار شرایط:

د کاروبار او سوداګرۍ شرایط د کورنېو داخلي تولیداتو د پرمختیا د حرکت پېژندنې شاخص دي، دغه شاخص په معمولي ډول د څو راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د نا خالصو کورنېو تولیداتو په کچه  بدلونونه را په ګوته کوي، په دې شرط چې په ټولیز اقتصادي حالت کې کوم نابېره بدلون رامنځ ته نشي.
د کاروبار د شرایطو شاخص د شرکتونو د مسؤلینو د وړاندوینې پر بنسټ په راتلونکو شپږو میاشتو کې د هغوې د کاروبار پر وضعیت او سوداګرۍ ته  د هغوې په هیله مندی ولاړ دې چې د منل شوي نړېوال معیار پر بنسټ محاسبه کېږي (د لازیاتو معلوماتو لپاره د دغه رپوټ په پاې کې ضمیمې ته مراجعه وکړۍ).
 د دغه شاخصونو د قیمت حد د مثبت ۱۰۰ او منفي ۱۰۰ تر منځ ټاکل شوې، چې د صفر نقطه د عادي یا په خپل حال په معنا او له صفر څخه تر مثبت ۱۰۰ د کاروبار مثبت شراېط او له صفر څخه تر منفی ۱۰۰ د کاروبار منفي شراېط را په ګوته کوي.

## الف. ۱ - دکار وبار عمومې شرایط د هر ولایت په تفکیک:

د ۱۳۹٦ کال د لیندۍ په میاشت کې د کاروبار د عمومي شرایطو شاخص د کابل، بلخ، قندهار، ننګرهار او هرات لپاره په ټوله کې (-۱۲،۵) دې، پداسې حال کې چې په تېره سروې کې دغه اندازه (-۵،۸) وه. څرنګه چې په ګراف کې لیدل کیږي د کار وبار عمومي وضعیت د تېرو درېو سروې ګانو په پرتله خراب شوې.
دغه راز په دې دوره کې د ۱۳۹٦ کال د تېرې دورې په پرتله د کارو بار عمومي شرایط لا خراب شوي دي. د اوسنۍ وضعېت په اړه د پانګوالو د باور کچه هم د تېرې سروې په پرتله را ټیټه شوې ده (-۲٦،۵ ← -۲۳،۲)، دغه راز د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره د هغوې د هیله مندۍ کچه هم را ټیټه شوې ده (-۳،۵ ← ۹،۵).  د تېرو سروې ګانو په پرتله، دغه سروې راښایې چې سروې شوي پانګوال د خپلو کاروباري برنامو د راتلونکې په اړه هیله مند نه دي.
د ۲۰۱۷ کال په تېرو درېو سروې ګانو کې یواځې د ننګرهار ولایت د سوداګرۍ د مثبت شاخص درلودونکې وو، مګر په دې سروې کې هیڅ یوه سیمه د کاروبار او سوداګرۍ د مثبت شاخص درلودونکې نه وه. قندهار د -۳،۴ او کابل د -۲٦ په خپلولو سره د کاروبار په برخه کې تر ټولو زیانمنې سیمې وې. باید یادونه وشي چې قندهار د تېرې سروې په پرتله لږ څه ښه شوې، مګر سره له دې یې هم د کاروبار شاخص منفي او د تېر کال د همدې دورې په پرتله ښکته دې.

---

سوداګرۍ ته د لېوالتیا سروې د سوداګرېو له مدیرانو څخه د دوې د کاروبار د اوسني وضعیت او په راتلونکو شپږو میاشتو کې د دوې د هیلو په اړه نظرونه پوښتني. اوسنۍ سروې د هېواد په شپږو سیمو ( کابل، بلخ، کندهار، هرات او ننګرهار) کې تر سره شوېده چې په دې لړ کې له ۷۰۵  شرکتونو سره د ۲۰۱۷ کال د نومبر په لومړۍ او دوهمه اونۍ کې د تیلیفون په مرسته مرکې تر سره شوي دي.

ACCI BCI




| | IV-12 | IV-13 | I-14 | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III-16 | IV - 2016 | I - 2017 | II - 2017 | III - 2017 | IV - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولټال | 14 | 8 | 27 | 1 | 31 | 19.3 | 2.208 | 23.1- | 18.9- | 9.07- | 6.71- | 6.81- | 9.93- | 9.1- | 6.7- | 5.8- | 12.5- |
| کابل | 17 | 12 | 29 | 8- | 31 | 11 | 2.5- | 40.3- | 26- | 9.25- | 20.8- | 13.5- | 30.4- | 29.6- | 27.2- | 10.0- | 26.4- |

گراف ۱: د کاروبار عمومي حالت ۱۱۳۹۱-۱۳۹٦ (د کال په هره ربعه کښې سروی تر سره کيږی)

ACCI BCI




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III-16 | IV - 2016 | I - 2017 | II- 2017 | III - 2017 | IV - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 8- | 31 | 11 | 2.5- | 40.25- | 26- | 9.25- | 20.75- | 13.5- | 30.41- | 29.6- | 27.2- | 10- | 26.4- |
| بلخ | 21- | 31 | 21.7 | 20.225 | 30.56- | 11.11- | 3.89 | 53.89- | 5.555- | 20.57- | 14.7- | 12.2- | 14.9- | 16.1- |
| کندهار | 10 | 33 | 25.55 | 2.75 | 12.22- | 27.22- | 19.44- | 4.995 | 1.11- | 2.61- | 20.9- | 20- | 9.2- | 3.4- |
| ننګرهار | 18 | 37 | 31.7 | 18.89 | 1.11- | 6.11- | 11.12- | 27.78 | 3.89- | 5.65 | 12.6 | 23.5 | 10 | 4- |
| هرات | 4 | 24 | 6.7 | 28.33- | 31.11- | 23.89- | 9.445- | 8.33 | 10- | 1.47- | 7 | 2.2 | 5.1- | 12.6- |

گراف ۲: د ولايتونو په کچه د کاروبار وضعيت ۱۳۹۳ - ۱۳۹

## الف. ۲- د سکتور په تفکیک دکارو بار شرایط:

ساختماني سکټور د (۲۷،۲ -) او توليدي سکټور د (۲۵،۵ -) په درلودو سره د کاروبار تر ټولو بد شرايط را په ګوته کوي. په داسې حال کې چې کرنه د (۱-) او سوداګري د (۶،۳-) په درلودو سره که څه هم د منفي شاخص لرونکي دي، د سکټوري درجه بندۍ په سر کې ځای لري.

د ۲۰۱۴ کال په پاى کې، توليدي سکټور د نورو سکټورونو په پرتله د ښه چلند درلودونکې وو او د سياسي او اقتصادي ستونزو پر وړاندې د نورو سکټورونو لکه سوداګرۍ، ساختمان او خدماتو په پرتله يې زيات ثبات درلود، مګر د ۲۰۱۶ کال د آخرنۍ دورې را پدېخوا په تدريج سره د سکټوري درجه بندۍ ټيټې کچې ته رالوېدلې دی.

د کرنې سکټور چې د ۲۰۱۶ کال په وروستۍ دوره کې په سروې کې شامل شو، د پخوانېو دوه سروې ګانو په پرتله د نا مناسب وضعيت (۱-) درلودونکې دي ، چې لا هم د ټولو سکټورونو د جدول په سر کې ځاى لري.




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III-16 | IV - 2016 | I-2017 | II2017- | III - 2017 | IV - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| توليدي | 3 | 36 | 18.7 | 19.695 | 20.61- | 11.82- | 0.905- | 4.24- | 1.515- | 12.73- | 19.4- | 20- | 19.4- | 25.5- |
| سوداګريز | 1- | 32 | 20.7 | 5.515- | 26.56- | 25.17- | 8.275- | 3.45- | 6.9- | 11.38- | 14.8- | 9.3- | 1.3- | 6.3- |
| ودانيز | 11 | 25 | 9.5 | 11.43- | 28.58- | 21.9- | 20- | 14.29- | 16.67- | 27.62- | 14.8- | 15.3- | 0.7 | 27.2- |
| خدماتي | 0 | 29 | 19.3 | 5.4- | 31.38- | 23.79- | 11.38- | 17.93- | 10.69- | 15.17- | 19.4- | 12.8- | 0.1 | 18.6- |
| کرنيز | | | | | | | | | | 5.515- | 3.8 | 5.9 | 1.1 | 1- |

ګراف۳: د کاروبار وضعيت د سکټورونو پر بنسټ ۱۳۹۳ - ۱۳۹۶

## الف. ۳- د شرکتونو دکچې په تفکیک دکار و بار شرایط:

په دې سروې کې هم د پخوانیو سروې ګانو په څېر د سترو، منځنیو او کوچنیو پانګوالو نظر د کاروبار د وضعیت په اړه متفاوت دې.

د کوچنیو او منځنیو شرکتونو د کاروبار وضعیت (۲۲,۳ -) د تېرې سروې (۱۵,۳-) او د تېر کال د همدې دورې (۱٦ -) په پرتله نا مناسب دې. برعکس د سترو شرکتونو د کاروبار د وضعیت شاخص د تېر کال د همدې دورې په پرتله څه نا څه ښه دي، ولې د روان کال د دریمې ربعې په پرتله ډېر ټیټ دې.

ستر شرکتونه راتلونکو شپږو میاشتو ته هیله مند دي (۵,۱)، مګر منځني شرکتونه (۵,۱-) او دغه راز کوچني شرکتونه (۱۱,۹-) د کاروبار نا مناسب وضعیت راپه ګوته کوي.

ACCI BCI




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-16 | III-16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 | IV 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچنی او منځنی | 5- | 29 | 11.9 | 5.42- | 33.1- | 27.4- | 14.7- | 13.9- | 12.1- | 16- | 22.3- | 19- | 15.3- | 22.3- |
| لوی | 6 | 35 | 27.7 | 13 | 14.8- | 7.5- | 1 | 1.5- | 1- | 9.73- | 3.6 | 4.4 | 8.6 | 2.6- |

ګراف ۴: د شرکتونو د اندازې پر اساس د کاروبار وضعیت ۱۳۹۳ - ۱۳۹٦

## ب. سپارښتني:

پانګوال را په ګوته کوي نه يوازې دا چې د هغوي  سپارښتنو ښه والي ندي مونډلي بلکه د هغوي د سپارښتنو کچه را ټيټه شوې ده (۴۱٫۲-). د يادوني وړ ده چې دغه اندازه د ۲۰۱٦ کال د همدغه دورې د سپارښتنو د شاخص (۲۹٫۵-) په پرتله ټيټه ده.

هيڅ يو ولايت د سپارښتنو د مثبت شاخص درلودونکي نه وو مګر قندهار (۲۴٫۴-) او هرات (۲۹٫۵-) د ننګرهار (۴۲٫٦ -)، کابل (۴۸٫۵-) او بلخ (۵۲٫۱- ) د ولايتونو ښخه په نسبتاً ښه حالت کې قرار درلود.




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II - 2016 | III - 2016 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 | IV 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د سپارښتنو وضع | 52- | 41- | 47.6- | 55.2- | 57.7- | 63.6- | 61.8- | 60.4- | 33.4- | 29.5- | 38.3- | 36.8- | 36.4- | 41.2- |

ګراف ۵: د سپارښتنو عمومي وضعيت ۱۳۹۳ - ۱۳۹٦

# ج. د ګمارنې هيلې:

۷ شمېره ګراف د شرکتونو  د کارګمارنې د اوسني حالت د بيلانس حاصل جمع او په راتلونکو درېو مياشتو کې د  کار ګمارنې په برخه کې د پانګوالو هيله مندي را په ګوته کوي.

د دې سروې پر بنسټ، شرکتونه د خپل اړخه د کار ګمارنې وړاندوينې په اړه ډېر هيله مند ندي

(۳٫۵ -) او د هغوی د هيله مندی کچه د تېرې سروې  په نسبت ۹٫۵ سلنه را ټيټه شوې ده. کرنه د ۳٫۱ په درلودو سره په لوړ ترين او ساختماني سکټور په (-۲۵٫۷) سره د کارګمارنې تر ټولو کمې هيلې راپه ګوته کوي.

د تل په څېر، د کارګمارنې اوسني وضعيت د پخوانۍ سروې د ځواب ويونکو د هيلو سره متفاوت دی.

د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر په مياشت کې د شرکتونو د وينا پر بنسټ دوی انتظار درلود څو په راتلونکو دريو مياشتو کې د کارګمارنې کچه په منځنۍ توګه ٦ سلنه زياتوالې ومومي. مګر د دې سروې پر بنسټ د کارګمارنې دغه سروې په تېرو درېو مياشتو کې نزولي حرکت درلود. د هغه ځواب ويونکو شمېره چې په وينا يې کارکوونکې کم شوي د هغو څخه ۲۲٫۸٪ زيات دي چې په وينا يې کارکوونکو زيات والې موندلې وو.

ساختماني شرکتونه د (-۲۵٫۷)، توليدي سکټور (۲۳٫۴ -)، خدمات (۱۷٫۲ -) او سوداګري په  (۴٫۹ -) سره تر ټولو زيات کارکوونکي له لاسه ورکړي. مګر د کرنې سکټور په (۳٫۱) سره تر ټولو زيات کاری فرصتونه را منځته کړي دي.




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-16 | III-16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 | IV - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| توليدي | 43 | 56 | 40.61 | 27.88 | 19.39- | 33.04- | 10.61- | 16.37- | 0.91 | 4.85- | 17- | 10.3- | 9.4- | 23.4- |
| خدماتي | 39 | 45 | 42.75 | 23.45 | 20.95- | 35.17- | 14.83- | 16.21- | 5.52- | 9.66- | 8.7- | 9.4- | 4.1 | 17.2- |
| سوداګريز | 20 | 37 | 34.48 | 23.45 | 17.24- | 24.48- | 20.35- | 12.07- | 15.18- | 8.275- | 11.7- | 8.3- | 1.1 | 4.9- |
| ودانيز | 18 | 30 | 34.29 | 5.72- | 18.62- | 40.95- | 23.34- | 20.48- | 22.39- | 18.57- | 10.5- | 13- | 2.9- | 25.7- |
| کرنيز | | | | | | | | | | 1.752 | 4.9 | 21 | 13.1 | 3.1 |

ګراف ٦: د کار ګمارنې د هيلو مجموعه ۱۳۹۳ الی ۱۳۹٦

## د. امنيتي وضعيت:

د امنيت د وضعيت شاخص (۳۵،۱-) د پخوانۍ سروې (۳۸،۵- ) په نسبت د لوړو سيمه ايزو بدلونو په درلودو سره لږ څه ښه شوي دي. د کندهار ولايت (۲٦،۱) يواځېني ولايت دي چې مثبت امنيتي شاخص لري، مګر په ننګرهار (۷۱،۲ -) او کابل (٦۱،٦ -) کې سروې شوي پانګوال په شديده توګه د امنيتي وضعې د خرابېدو خبر ورکوي.

د هرات (۳۵،۱ -) او بلخ (۲۲،٦ -) ولايتونو سروې شوي پانګوال هم د خپل چاپېريال له امنيتي وضعيت څخه خوښ ندي. په ټوله کې امنيتي وضعه خرابه په نظر راځي.




| | II-14 | IV-14 | I15- | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III-16 | IV - 2016 | I-2017 | II- 2017 | III - 2017 | IV - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 1 | 17- | 40.5- | 54.5- | 70- | 61.5- | 59- | 33.5- | 17.5- | 48.17- | 65.7- | 64.1- | 49.4- | 61.6- |
| بلخ | 7- | 17 | 33.33 | 29.22- | 62.22- | 40- | 65.56- | 64.45- | 46.67- | 46.09- | 35.6- | 14- | 40- | 22.6- |
| کندهار | 13 | 22 | 54.45 | 19.78 | 18.89 | 18.89- | 35.56 | 5.55 | 2.22- | 14.78- | 2.5 | 5.2- | 4.4- | 26.1 |
| ننگرهار | 22- | 16- | 38.88 | 36.67- | 46.67- | 77.78- | 60- | 48.89- | 7.77 | 52.18- | 5.2 | 13.9- | 29.6- | 71.2 |
| هرات | 0 | 17- | 5.55- | 37.78- | 62.22- | 40- | 8.89- | 30- | 17.78- | 14.78- | 3.3- | 53.1- | 56.5- | 16.5 |

ګراف ۷: د ولايتونو پر بنسټ امنيتي وضعيت ۱۳۹۳ - ۱۳۹٦

## ه. دکار و بار پر وړاندې پراته خنډونه:

د کاروبار پر وړاندې د سترو خنډونو ارزونه راښايي چې اړين امنيت د پانګوالو لپاره د سوداګرۍ د پراختيا او پرمختيا په برخه کې تر ټولو با ارزښته عامل دی. له دې وروسته په ترتيب سره بازار، توکو او خدمتونو ته اړتيا، اداري سمون، غوره ښخ بناوې او مالي سرچينو ته لاس رسې د اقتصادي کړنو د پرمختګ لپاره بنسټيز عوامل شمېرل کيږي.




| | II14- | IV14- | I15- | II15- | III15- | IV15- | I16- | II16- | III - 16 | IV - 2016 | I2017- | II2017- | III - 2017 | IV - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د امنيت نشتوالي | 53 | 44 | 45.18 | 41.43 | 53.93 | 55.71 | 47.58 | 64.11 | 54.29 | 63.12 | 54.8 | 70.2 | 67.5 | 58.3 |
| عرضه او تقاضا نشتوالي | 23 | 27 | 19.11 | 21.61 | 21.96 | 21.25 | 23.08 | 12.5 | 20.36 | 10.07 | 15.5 | 10.1 | 11.5 | 14.6 |
| د اداری اصلاحات | 6 | 7 | 13.75 | 17.5 | 13.57 | 12.86 | 14.67 | 9.82 | 10.54 | 8.51 | 18.2 | 8.5 | 9.6 | 9.5 |
| د بيخ بنا نشتوالي | 12 | 17 | 17.14 | 13.93 | 6.25 | 7.32 | 9.84 | 7.86 | 10.18 | 12.77 | 7.4 | 9.8 | 8.5 | 13.2 |
| مالی سرچينو ته لاسرسی | 6 | 5 | 4.82 | 5.54 | 4.29 | 2.86 | 4.83 | 5.71 | 4.64 | 5.53 | 4.3 | 1.4 | 2.9 | 4.4 |

ګراف ۸: د کاروبار پر وړاندې شته خنډونه ۱۳۹۳ الی ۱۳۹۶

## ضميمه:
## دکاروبار تعريف:

د کاروبار شرايط د توليدي، ساختماني، خدماتي، سوداګريز او کرنيزو شرکتونو د دوره يي سروې پر بنسټ تشخيص کيږي. د شرکتونو له مسؤلينو څخه د اوسني وضعيت د څرنګوالي او په راتلونکو شپږو مياشتو کې د هغوی د هيله مندۍ په اړه پوښتنې تر سره کيږي. هغوی د خپل کاروبار وضعيت د دريو انتخابو څخه د يو په ټاکلو سره ( د عادي څخه غوره، عادي، د عادي څخه خراب) او خپلې هيلې د دريو ټاکنو څخه د يو په انتخابولو سره ( ښه به شي، بدلون به ونه مومي، خراب به شي) ټاکي.

له عادي څخه غوره انتخاب مثبت او له عادي څخه خراب منفي فرض کوو. د اوسني وضعيت شاخص د مثبت او منفي ځوابونو د فيصدي له تفريق څخه لاسته راځي. په همدې حال کې د هيلو يا توقعاتو شاخص د «ښه به شي» او «خراب به شي» د ټاکنو تر منځ د سلنو له فرق څخه لاسته راځي.

د کاروبار شرايط د کاروبار د وضعيت له حسابی اوسط او هيلو يا توقعاتو څخه عبارت دي.

په ګرافي ښودنه کې د سروې په لومړي دوره کې  د «عادی» او «بدلون به ونه مومي» انتخابونه د صفر د نقطې په توګه په پام کې نيول کيږي. د کاروبار د شرايطو شاخص له صفر څخه تر مثبت ۱۰۰ (ترټولو زيات) د مثبت په لور او منفی ۱۰۰ (ترټولو کم) د منفي په لور ممکن تغير ومومي. وروسته، کله چې زماني سيريزونه (Time Series) رامنځته شي، د کاروبار د شرايطو د صفر نقطه د ټاکلې کال د سروې د پايلو په پام کې نيولو سره ټاکل کيږي او دغه راز وروستي کلونه د همدغه کال پر اساس اټکل کيږي.




**ترتیب کوونکې:**

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه

**تمویل کوونکی:**

د آلمان هېواد د پرمختیایي مرستو اداره (جی آی، زید)

**د رپوټ لیکونکي:**

یونس نګاه، نعمت الله علیشیریان او ډاکتر مسعود پروانفر

**د معلوماتو را ټولونکي:**

محمد علی سراج، خنجر جبارخیل، عبدالقدیر امیری، مریم اکاخیل او رحیمه احمدی

**ډیزاینر :**

محمد ناصر یاوری | ۰۷۰٦٦۰٦۷۸۳

**کابل، د ۱۳۹٦ کال د مرغومي میاشت**



د چاپ او خپرولو حق د افغانستان سوداګرۍ او صنابعو خونې ته خوندي دي.

## ولې سروې او څېړنه تر سره کوو؟

- د کاروبار د خنډونو په اړه د عامه پوهاې د کچې لوړول
- د کاروبار د وضعیت په اړه زمونږ د پوهې لوړول
- د دولت او خصوصي سکټور تر منځ د خبرو اترو په موخه د کره اسنادو او ارقامو لاسته راوړل
- د کاروبار د چاپېریال د ښه کېدا په موخه وړاندیزونه

## په دې سروې کې نغښتل شوي برخې:

- معیاري لارې چارې او پوښتنلیکونه
- د ټېلیفون له لارې مرکه
- کارکوونکو او زده کړیالانو ته د زده کړې ورکړه
- په ملي کچه پوښښ
- د اقتصاد ټول سکټورونه
- د سوداګرۍ او صنایعو خونې غړي شرکتونه/ هغه شرکتونه چې د خونې غړیتوب نه لري

## کاروبار ته د لېوالتیا سروې:

الف: د لنډمهاله اقتصادي بدلونونو  څېړنه، تحلیل او وړاندوینه

ب: په هرو دریو میاشتو کې د یوځل لپاره د یوه کوچني پوښتنلیک له لارې تر سره کول

ج: دا ډول سروې تر ډېره په منځنیو او کوچنیو شرکتونو باندې تمرکز کوي ( له دې امله چې دا شرکتونه په اقتصادي بدلونونو کې ډېره اغېزه لري.

## د کاروبار د خنډونو سروې:

الف: د هغه د هغه اوږد مهاله ستونزو د پېژندنې په موخه تر سره کېږي چې د کاروبار د پرمختګ مخه نیسي.

ب: هرکال یو ځل د یوه هر اړخیزه پوښتنلیک له لارې تر سره کېږي.

ج: د کاروبار د ستونزو سروې تر ډېره په کوچنیو شرکتونو تمرکز کوي، ځکه چې دا شرکتونه تر ډېره د ستونزو سره مخامخ کېږي. له بله پلوه که څه هم د دوی د کار کوونکو شمېره کمه وي. مګر په اقتصاد کې مهم رول لري.



Afghanistan Chamber Of Commerce & Industries
اتاق تجارت و صنایع افغانستان
دافغانستان د سوداگرۍ او صنایعو اتاق

حضوري چمن
کابل ننداريِ ته څیرمه
کابل - افغانستان
+۹۳ (۰) ۷۵ ۲۰۲ ۵۸ ۵۴
+۹۳ (۰) ۷۹ ۴۴۴ ۹۰ ۵۵
research1@acci.org.af
www.acci.org.af
http://www.acci.org.af/surveys-and-studies.html
پست بکس: 233

با همکاری مالی

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT